# آه روفي ایډوکیټ هم لاړو

ثناء الله شمیم ګنډه پور

مـرګـے حق دے او دا زمونږ ایمان دے چې ځوک یو ځل دې دنیا ته راغلے دے هغه به د خپلې بـرخې ژوند دې عارضي جهان کښې تېروي او بیا بــه د ابـد پــه لاره ځـي. مرګ دا نــه ګوري چې دا مـاشـوم دے،ځـوان دے کـه بوډا بس چې د چا شپه پـوره وي هغه به کډه کوي. هم دغسې زمونږ ګران مـلګــرے خـوږ انســان جـانـان اشنـا عبدالـروف ایډوکیټ هـم پـه ځوانۍ کښې د خپلې برخې ژوند ترسره کړو او دې جهان نه رخصت شو. الله تعالی دې ور ته ګور په نور کړي آمین.

عبـدالـروف خان ایډوکیټ چې ټولو به ور تـــه لـــه میـنـې روفـي ایډوکیټ وئـیـلو پېدائشي نیشـنـلے ؤ خوله به ئې هر وخت له خندا نه ډکه وه خـوږ انسـان او میـنـه ناک ملګري وو لنډه دا چې د یـارانـو یـار ؤ بیخې تریخے ئې نه لرو سُور مُفلر د هـغـه پېژندګلو وه. روفي ایډوکیټ کورنۍ د ډېره اسـماعیل خان نوموړي خدائي خدمتګاره کورنۍ ده. د هـغـه نیکۀ ماسټر لقمان خدائي خدمتګار ؤ او بـاچـاخـان د قـافـلـې د هـغه وخت سالار ؤ چې د بـاچـاخان نوم په ډېرو کښې اخستل ډېر لوئې جرم ؤ. مـاسـټـر لـقـمـان مـاهـر تعلیم ؤ او د خپل کلي کـوځې هـغـو ماشومانو ته ئې هغه وخت د علم رڼا وربـخښـلې وه چې یـا خو ئې وس نه لرلو او یا ئې تعلیم ته نه پرېښودل.

د روفـي ایډوکیټ تـرۀ عبدالصمد خان په کال ۱۹۷۷.۷۸ء کښې د پـارټۍ چې هـغـه نیشـنل ډیـمـوکـریـټـک پارټي (NDP) ئې نـوم ؤ د ضلع مشـر سـکـتـر ؤ هـغــه هـم د خان عبدالولي خان د قـافـلـې مـلګـرے ؤ او د پارټۍ سره ئې تودې سړې تېـرې کړي دي. عبدالروف خان ایډوکیټ د سکول د وخـت نـه د پښـتـون سټوډنټس فیډریشن غړے پاتې شوے دے او چې کله کالج ته راغے نو په کال ۱۹۸۹.۹۰ء کښې د پښتـون سټوډنټس فیډریشن ګـورنـمـنـټ ډګـري کالج ډېره اسماعیل خان صدر پــاتې شـو چې کـلــه ئې تـعـلـیـم مـکـمل کړو د یـونیـورسټۍ نـه فـارغ شو نو بیا ئې د پلار نیکۀ پـارټي عوامي نیشنل پارټي (ANP) لمن ټینګه کړه او په کال ۱۹۹۴.۹۵ء کښې د عوامي نیشنل پـارټۍ سټي ډېـره اسـمـاعـیـل خـان مشر سکتر وټاکل شو او د صوبائي ورکنګ کمیټۍ ممبر هم شـو او د پــارټۍ دپــاره ئې شپــه ورځ یوه کړه. د عبـدالـروف خـان ایډوکیټ کورنۍ د بـاچـاخـان د

کـورنۍ سره بې غرضه،بې طمعه او بې کچه مینه لـري او لـرلې ئې ده. بـاچاخان او د خان عبدالولي خان په وخت د روفي ایډوکیټ د کورنۍ د باچاخان کـورنۍ ډېـر خیال ساتلے دے او د هغوي د خدماتو اعتـراف ئې هـم کړے دے او بـاچـاخـان سـره خان عبـدالولي خان د ماسټر لقمان کورنۍ ته د قدر په سترګه هم کتلي دي ځکه دا کورنۍ نن هم د هغوي مشـرانـو د قدر د کبله نن هم دې پارټۍ سره تړلي راروان دي.

روفـي ایډوکیټ بـه یوه جنوني جذبه لرله یـو کار ته چې به ئې لاس واچولو هغه به ئې سرته رسـولـو. هـم دغسې ئې د څـو کالو نه مخکښې د خپل نیکهٔ ماسټر لقمان صیب په نوم ,,لقمان لاء کـالج،، پرانستو وکالت ئې ور ته پریښودو او شپه ورځ دومـره مـحنت او خواري وکړه چې نن د کالج هـر یـو کس په خوله د ستاینې نغارې دي یو لوئې نـوم دے هر هغه بنیادم له ئې په کالج کښې داخله ورکړې ده چې وس ئې نه لرو او هغو طالبعلمانو د کـالـج د نـوم ببرغونه اوچت کړي دي او تمغې ئې ګټـلې دي هـم دغــه شـان د روفـي مشر پروفیسر مـحبـوب صیب هم په پارټۍ مین دے او په خپلې ګـومـل یـونیـورسټۍ کښې د پښتـنـو بـچـو او د عــلاقې د وس نـه لرونکو بچو هغسې لاس امداد د خپل جیب نه کوي لکه چې پلار نیکه ئې کول.

روفي ایډوکیټ سږ کال د کالج نه د لقمان لاء پـوهـنـتـون پـرانستو پخه اراده وه خو افسوس ژونـد ورسـره مـلګـرتیا ونـه کړه او بې وختـه ئې سـتـرګې پټې کړې او پــه ډکې ځوانۍ کښې په ۱۲ دسمبر ۲۰۱۵ء تـه زمـونږ خوږ او ګران ملګري د خـدائې په امان اووې او هم په دغه میاشتې دسمبر کال ۱۹۲۲ کښې پـرانستلے ؤ اوس به ټول ملګري د ګـران او خـوږ روفي ایډوکیټ خوندورې خبرې د هـغـه ښېګړې او نـه هېـرېـدونـکي یادونه یو سره ویشـو او اسـلـویـلـو سره به ئې یادوو. یو پخوانے شعر.

ستا یادونه به مې زړهٔ کښې داسې ښخ وي
لـکـه زنګ وهلے مېخ په زوږ لرګي کښې

## دعا

لاس په دعا یم ربه. ستا ثناء خوان یم ربه
خـدایـــه دې وطـن لـه د علم رڼا راولـه
تیـــاري کړه ختـمې سبـــا راولــــه

دې نـــفـــرتـــونـــو وطـــن وران کړے
الــفـــت او میـنـــــه وفـــا راولـــه

د ظـالـمـانـو پکښې ظلم زور چکېږي
دې ظــالـمـــانـو خـلـقو لـه بلا راولـه

ډېر زخمتونه مونږ تېر کړهٔ لویه خدایه
د مـحبـت تـازه پــه مـونږ مسکا راوله

لاس د وروري به یو بل له ورکړو پښتنو
خدایه ایمل ولي اسفندیار مشران بیا بیا راوله

حضرت ولي ولي